مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: اعظم سیستانی
ژباړه: زلمی کرزی

۲۰۱۹/۰۴/۰۵

# د نا شناس د کتاب د معرفي.څخه هدف، د ناشناس درناوی دی او یا که د هغه سپکاوی

ما د ناشناس د کتاب د معرفي ویډیو چې ډیرو دوستانو ماته راولیږله، ومي لیدل.
هغه څه چې ماته اهمیت درلود، خپله د ناشناس د کتاب معرفی د افغانستان د موسیقی هنر په باره کې دی.
هغه ځوانان چې د موسیقی سره مینه لري ډیر ارزښتناک کڼل کیږي، ولی د ده هنری کتاب معرفی نه سو، په مجلس کې هیڅا د کتاب په باره کې خبري و نه کړې او نظریي ور نه کړ مګر د سیاه سنګ کتاب د ناشناس په باره کې چې دوهمه درجه اهمیت لري په لندن، هالند او د آلمان په مجلسو کې په جذباتو معرفی سو او دسویدن په استکهلم کې د معرفی کولو تیاري نیسي.

زما په اند علت یې دا دی چې غواړی د پښتون د ټولني پیژندل سوی هنرمند ناشناس پواسطه پر پښتون لوی عالم علامه حبیبي باندی تورونه وارد کړي، چې خپله په دغسې مجلس کې د جرأت بیان نلری.
ښاغلی ناشناس د خپلی ادعا سره سم غیر مستند او نا آګاهانه خبري د پښتنو د تاریخ او فرهنګ په باره کې څرګندي کړی چې د پښتو ژبې او فرهنګ د پخوانیو دښمنانو هیله یې تر سره کړه.

په دغه معرفی کیدوکی، اساسی هدف د پښتنو د لوی عالم یعنی علامه حبیبی تخریب، هغه هم د ده د دوستانو یعنی ناشناس پواسطه دی. د حبیبی ګناه داده چې ولي هغه تاریخ، ژبه او پښتو ادب یې د پټې خزانې د کتاب د نشر پواسطه د فارسی ادبیاتو تاریخ څخه د مخه ښوودلی دی. ایرانیانو مدام کوښش کړی او کوی یې چې یوازی فارسی ژبه په دغه سیمه کې د یوه شهکار لکه فردوسی شاهنامه د پیدایښت توان درلود او لري یې. بیله فارسی څخه هیڅ بله ژبه و دغه پوخوالی ته نسي رسیدلای. چې ویوونکی یې پخپله ژبه د شعر ویلو توان ولري. څنګه چې په پټه خزانه کې په نهمه میلادی پیړۍ کې د امیر پولاد زوی امیر کروړ شاعر د غور اوسیدونکی لیدل سوي دی چې د فردوسی د مخه یی په حماسی شعرونو ویلو کې لوی لاس درلود او د شعر یوه مشهوره بیلګه یې:

«زه یم زمری، پردي نړی له ما اتل نسته    په هند و سند په کابل بل په زابل نسته
له ما اتل نسته.»

ده
نو لدی کبله د پټې خزانې د دغه شعر په خپرولو سره، ایراني لیکوال او (متعصب) افغاني فارسي ژبي لیکوال ټول د پټې خزانې او عبدالحی حبیبی د تخریب او تردید په لټه کې سول او تر نن ورځې پورې ادامه لري. ناشناس هم په غیر آګاهانه ډول د پښتنو د تاریخ او فرهنګ د دښمنانو په ژرنده کې اوبه اچوي او د پښتون د دښمنانو زړونه یې خوشحاله کړل، څنګه چې په ویډیو کې لیدل کیږی، دی د فارسي ژبي او ادبیاتو ستاینه کوي او شهنامه د فارسي ادبیاتو یو شهکار بولي مګر د خوشحال خان ختک او حمید ماشوخیل نازک خیاله پښتو شاعر نوم نه اخلي

پټه خزانه کتاب یوه تذکره ده چې د محمد هوتک لخوا د پښتنو شاعرانو ژوند لیک (نارینه او ښځي) په یوه دفتر کې تدوین سوي دی. دا چې د محمد هوتک کتاب یو علمي اثر دی او که نه، د انتقاد کوونکو نظر دا نه دی بلکه د انکار هدف یې د پښتو ژبی توان د شعر او شاعری په تخلیق کې دی. همدا رنګه ښاغلی نا شناس د شاه حسین هوتکی په دربار کی د محمد هوتک د شته والی څخه انکار نه کوي مګر د امیر کروړ د شعر پر پوخوالي تردید لري او هغه د عبدالحی حبیبی د ذهن څخه راوتلی یو جعل بولي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولــئ

حیرانتیا په دی که ده چي خپله نا شناس په یوه روایت کي جعل کوي او هغه په داسي خوږو الفاظو بیانوي چي ته به وایي چي دی خپله د انګلیسی الفیستون او حبیبی په خبرو او صحنه کي حاضر او ناظر وي. په داسي حال کي چي حبیبی ۶۱کاله وروسته د الفستون تر مړنیي زیږیدلی دی، د ښاغلی داکتر لطیف یاد لیکنی ته پام وکړی چي نن په فیسبوک کي خپره سوه.

«مونټ ستیوارټ الفستون انګریزی مورخ د ۱۷۷۹زیږدیز میلادی کال د اکتوبر په شپږمه نیټه زیږیدلی و او د۱۸۵۹زیږدیز کال د نومبر په شلمه نیټه مړ سو. علامه حبیبی په ۱۹۱۰زیږدیزکال کی تر الفستون ۶۱کلونه وروسته زیږیدلی دی. ناشناس صیب وایی چي علامه حبیبی ور سره لیدلی و او د پټی خزاني په اړوند یي ور سره خبري کړي دي آیا په قبر کي یي ور سره خبري کړی دي؟» لطیف یاد فیسبوک ۴/۳ /۲۰۱۹.

د نا شناس د دغو خبرو څخه ثرګندیږي چي هغه د حبیبی د مخالفینو لیکنی لوستلی دي څو د خلکو باور جلب کړي. په داسي حال کي چي د حبیبي د اثارو په نقد او کره کتنه کي باید خپله لکه حبیبی علمي تجربه او څیړنیز لیاقت ولري، نه داسي څوک لکه نا شناس هیڅ یو علمي اثر نه لري او نه یي په تاریخ او ژب پوهني کي څیړنه کړی ده.

د سیاسنګ په کتاب کي د نا شناس پر خبرو سړی ډیره تبصره کولای سي مګر په دغه لنده لیکنه کي یي اړتیا نسته.

ګرانو دوستانو:
پټه خزانه کتاب، د پښتنو د ادبیاتو د تاریخ بنسټ جوړوي، او په هغه کي د پښتون غیرتي، میړونو، میندو لکه: نازو انا د میرویس نیکه مور او زرغونه انا د احمد شاه بابا یادونه کړي ده. د نامتو او میړنیو زامنو د روزني او پالني سر بیره په شعر ویلو کي یي هم لاس درلود او هم په دغه کتاب کي د پښتو د پخوانی شعر سابقه نسبت فارسی ژبی ته ښوودل سوي ده، نو لدی امله د دغه کتاب او فرهنګ دښمنان غواړي چي د ضعیفو انسانانو څخه استفاده وکړي او د دوی په نمانځنه، توهین او سپکاوي سره خپل اهداف تبلیغ کړي.

سیاسنګ هوښیار او زیرک لیکوال دی کله چي وغواړي د یو چا څخه غچ واخلی، مخامخ هغه ته بد نه وایی، د بلي دروازي څخه راځی او هغه په خنجر وهي. سیاسنګ اووه، اته کاله د مخه د پښتنو د فرهنګ او ژبي ډیر ټینګ دفاع کوونکي و. د پښتو ژبي او پښتنو شاعرانو لکه: حمید ماشو خیل، سایل، ملنګ جان او رحمان بابا په باره کي ډیری مقالي کښلي، مګر وی لیدل چي زما لیکني د پښتنو لیکوالو لخوا څخه کومه ستاینه نه کیږي، یو ځل یي د پښتو ژبي او فرهنګ پر ضد خپل قلم ته تغییر ورکړ.
لومړی یی رحمان بابا د حافظ د افکارو او اشعارو غل وباله او وروسته د سویډن د استکهلم په ښار کي د اروپایي افغانانو په یوه غونډه کي د عبد الباری جهانی پر شعرونو یو تند نقد وکړ او د جهانی لخوا د عمر خیام د رباعیاتو ژباړه په پښتو ژبه خام او بی ارزښته وبلل. دادی اوس د پښتنو د پیژندل سوي هنرمند ناشناس وار رارسیدلی دی چي هغه خپله د پښتنو په واسطه له مینځه وړي.

نا شناس فکر کوی چي د سیاسنګ د دغه کتاب په کښلو سره په افغانی ټولنه کي د ده مقام لوړ کړی دی په داسي حال کي چي سیاسنګ ناشناس د پاکستان د نظامی استخباراتو i s i د معاش اخیستلو په سطح د نورو کسانو په شان لکه: ګلبدین حکمتیار او شهنواز تڼی شمیرلی دی او افغانی جامعي ته یي د جاسوس او وطنفروش په توګه معرفی کړی دی.

د کتاب دغه نقل قول ته (ناشناس ، ناشناس نیست) پام وکړی!
سیاسنګ: آیا( آی اس آی) تا سو ته پیسي درکولي؟
فطرت: هوکی، په اول سر کي یي ما ته لس زره کلداری راکولي، په دریمه میاشت کي دغه مبلغ اتو زرو ته ورسید، کله چي ما پوښتنه وکړه چي ولی مو دوه زره لږ راکړی، دوي وویل: ګلبدین حکمتیار او شهنواز تڼی ته هم دغه مبلغ ورکوو.د سیاسنګ په دغه نقل قول کي د ناشناس اپورتونیستی (ابن الوقت) خاصیت د هیواد د سیاسی رژیمونو په مقلبل کي ښکاره کیږي.
سیاسنګ: کومه بیزاری چي تاسو یي د سیاست څخه لری، داسی ښکاری چي ستاسو سرنوشت او سرګذشت زیات د سیاست سره په تیره بیا په هر رژیم کي د سیاسی آهنګونو د ویلو سره غوټه سوي دي؟ په دغه باره کی څه وایاست؟
فطرت: سم متوجه نه سوم، آیا ستاسو اشاره ملی سرود ته وه؟
سیاسنګ: زما هدف لاندی اووه آهنګونه دي؟

۱. آن دیو شب که برده ظلمت... د سلطنت د ړنګیدو وروسته د جمهوریت په لومړی کلیزه کي،
۲. اي د آزادی خاوری تاته مو سلام دی... د داؤد خان د رژیم ړنګیدل او د ثور د کودتا پیل،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

۳. سر بلند باد دوستان خلق – سرنګون باد دښمنان خلق... د ثور د کودتا دریمه ورځ ،
۴. دا د مستو پسرلی دی... د ثور تکاملی انقلاب او نوی پړاو. په دریمه میاشت کي
۵. جهاد این جا بهار ... د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند د حاکمیت له مینځه وړلو په وخت کي.
۶. زما کندهار د زمرو وطنه ... د جهادی حاکمیت د ماتي پیل او د طالبانو بریالیتوب،
۷. دا وطن افغانستان دی... د طالبانو د امارت ړنګیدل او د حامد کرزی د حکومت پیل ،

په نوموړی کتاب کي د دغو ټکو یادونه هیڅ مانا او بل منظور نلری، بیله دی چي ناشناس بی آبرو او بی عزته سي او د پاکستان د یوه جاسوس آی اس آی په سطح او د هغه ابن الوقتی په ټولو سیاسی رژیمونو کي په ۷۰اخیرو کلنو کي.
همدا رنګه هیڅوک د ده شخصي خبرو ته چي خپل ځان د پاکستان د جاسوسی سازمان معاش خور معرفی کړي، غوږ نه نیسي او هیڅوک دغه اوتی بوتی (چټیات) د پښتو د تاریخ او فرهنګ پر ضد نه مني.

پای

یادونه:
ځنګه چي نن په فیسبوک کي د ناشناس په خصلت خبر سوم، ما هغه مقاله چي د ناشناس په صفت کي (حکایت نا شناس و پروژهٔ سیاسنګ) په کال ۲۰۰۷ کي ولیکله او د افغان جرمن آنلین پورتال کي نشر سوه، بیرته یي اخلم ځکه ده د مخنی احترام او اعتبار له لاسه ورکړ.

[هدف از رونمائی کتاب ناشناس، تجلیل از ناشناس است یا تذلیل او؟](#)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ